ليکوال: هاري
بينوا
تاريخ ۳۰/۰۱/۲۰۰۸

# کرزی: ما ته د امريکا ګوډاګی ويلای سئ

ښاغلي کرزي بالاخره اعتراف وکړ چي خلک هغه ته د امريکا ګوډاګی وايي. هغه د سي ان سره په يوې اختصاصي مرکي کي چي د جنوري د مياشتي په ۲۶ نېټه چي په سويس کي ورسره سوې ده د يوې پوښتني په جواب کي وايي: " د امريکا حکومت د افغانستان سره مرسته کوي. که چيري موږ ته د ګواډګي خطاب کېږي، او يا که چيري ماته پدې خاطر د امريکا د ګوډاګی خطاب کېږي چي زه د امريکايانو د مرستو ممنون يم، نو بيا تاسو کولای سي چي ماته دګوډاګی لقب راکړي ".

د سي ان په مرکه کي، د ښاغلي کرزي څخه سوال کېږي چي خلک ګمان کوي چي هغه يو کمزوری، بې ادارې، او بې ارادې مشر دی. مانا دا چي هر څه چي امريکا ورته وايي هغه يې کوي . په بل عبارت، نه مستقل نظر لري، نه ماموريت لري، او نه هم يو عالي ارمان لري. ښاغلی کرزی په جواب کي وايي چي هغه حاضر دی چي د امريکا د مرستو او پيسو په بدل کي همدا سپکاوی او توهين ومني .

که څه هم، د ښاغلي کرزي همدا اعتراف د افغان اولس لپاره نهايت شرم او بې عزتي ده، خو حقيقت همدا دی. ښاغلی کرزی نه مشر وو او نه به هم هيڅکله د افغانانو مشر سي. هغه د پردو د لاس اله ده. هغه د افغان اولس لپاره د شرم او بې عزتی د پزي پيزوان دی. هغه د امريکا د سياسي فيلسوف، ډېويډ تورو، په قول د بې اصولی او شرم په ژوند خوشحاله دی. په بل عبارت، ښاغلی کرزی اصول او پرنسيپ نلري، نه يې هم پيژني، او نه هم ورته ارزښت لري. د هغه لپاره چوکی تر هر څه زيات اهميت لري، او د همدي چوکی د ساتلو لپاره کم بخت بش ته، شارلتان زلمي خليلزاد ته او نورو امريکاي عالي رتبه مامورينو ته تل لاس په نامه ولاړ وي. لنده دا چي ښاغلی کرزی د" نه" ويلو جرات نلري .

د ملي مشر او ګوډاګی تر مينځ توپيرونه

د يو ملي مشر لومړی او مهم خصوصيت مشروعيت دی. د مشروعيت او اخلاقي نفوذ څخه مطلب دا دی چي خلک او مشران يې همړغي او همکاري سره ولري، خو په خطرناکه او مرګاني شرايطو کي خلک خپل مشران پرته له ېږي څخه تعقيب کړي، او په ژوند او مرګ کي د هغوی ملګري وي. لنده دا چي خلک د خپل مشر اطاعت وکړي. له مشری څخه هدف د يوه ليډر د پوهي ژورتيا، عقل، صداقت، انسانيت، همت، زړه ورتوب، او دسپلين دی. مشروعيت يو مشر ته ددې فرصت روکوي چي خپلي پاليسی عملي کړي. ليډر شيپ يو مشر ته ددې موقع ورکوی چي په خطرناکو او سختو شرايطو کي د سختو فيصلو د نيولو په ارتباط تکنی نوی. په مقابل کي، يو ګوډاګی مدام د مشروعيت او اعتبار له بحران سره لاس او ګريوان وي. خلک يې اوامر نه مني، احترام ورته نلري، او د خپل ځان يې نه بولي. د کمونستانو، مجاهدينو، طالبانو، او د کرزي د حکومت په شمول د اوسني افغاني حکومتونو لوی مشکل دا دی چي مشران يې په افغانانو کي ريښی نلري. په بل عبارت، سياسي ملاتړ يې د خلکو څخه نه بلکي پر خارجي قواوو باندي تکيه لري. همدا سبب دی چي په افغانستان کي د ملي مشرانو سخت کموالی احساسېږي. افغانان پر اوسني مشرانو باندي اعتماد او باور نلري، او هغوی خپل استازي نه ګني.

د يوه ملي او مستقل مشر يو بل مهم خصوصيت دا دی چي هغه خپل خاص او مستقل نظر لري. په بل عبارت، د ملي مسايلو په اړه د نظر خاوند وي او کولای سي چي نور هم خپل نظر ته معتقد کړي، او يا اقلا د خپلي مفکورې لپاره په کافي اندازه دلايل لري. يو ملي مشر د خپلي مفکورې دفاع کولای سي، او د ضرورت په وخت کي د نورو لپاره لاربنونه کولای سي. مشر امر صادروي او خلکو ته يې ورکوي. په بل عبارت، خپله تصميم نيسي او خپله فيصله صادروي. لنده دا چي يو ملي مشر د نورو د قانع کولو فکري توان او قدرت لري .


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

د يو مشر بل ځانګړی خصوصيت دا دی چي هغه د خپلو خلکو ګټي ساتي. د خپل وطن او خلکو د منافعو دفاع کوي. همدا سبب وی چي يو واقعي مشر پر خلکو ګران وي، د هغه احترام کوي او هغه خپل لارښود ګڼي. په معاصر تاريخ کي، د افغانستان لويه بدمرغي دا ده چي اوسني مشران يې تر هر څه اول خپلي ګټي په نظر کي لري. د ځان د ګټو لپاره د خلکو منافع قربانوي .

د يو لارښود بل ځانګړی خصوصيت دا دی چي هغه د نورو لپاره د الهام منبع وي. په بل عبارت، نه يوازي خپل خاص نظر لري بلکي نور خلک را پارولای سي، هغوی ته الهام ور کولاي سي، او لنډه دا چي په خلکو کي هيلي را پارولای سي. مانا دا چي د اړتيا په وخت کي لکه شهباز د نورو پر سرونو ګرځي او خلکو ته د زړه ډاډ او اطمنان ورکوی .که چيري خلک د کوم مشکل سره مخامخ سي، ملي قايد او مشر د هغوي د ستونزو لپاره حل لري. په تاريخ کي، ټولو هغو مشرانو چي د خپلو خلکو په زړونو کي يې ځاي او احترام پيدا کړی دی، هغوی د بل چا ګوډاګيان نوه. هغوی د بل مزدوري نده منلې، بلکي هغوی پخپل فکري قوت او بصيرت د خپل هيواد استقلال، برم، او عزت ساتلی دی .لنډه داچي هغوی د خارجي قواوو په ملاتړ او مرسته مشري نده تر لاسه کړې، بلکي هغوی د خپلو خلکو په ملاتړ سياسي قدرت تر لاسه کړی دی .

مشران د خپل مرام او هدف لپاره خطرونه مني. هغوی له خطرونو څخه ېېره نلری، بلکي د خطرونو مخته ور وځي. واقعي مشران د خطرونو سره مقابله کوي او خپلو خلکو ته دا ور زده کوي چي د مشکلاتو سره بايد مبارزه وسي. په مقابل کي، ګوډاګيان له خطر او ريسک څخه ډار ېږي. همدا علت دی چي ښاغلی کرزی په جار وايي چي د جنګسالارانو دمقابلې توان نلري. يو ماهر او تکړه مشر داسي موضع نيسي چي هغه پکي ماتېدل نلري او هم د خپل دښمن د ماتولو هيڅ فرصت له لاسه نه ورکوي .

د يوه عالي کرکټر د لرونکی ليډر يو بل خصوصيت دا دی چي د تکړه او باکفايته خلکو د پېژندلو قابليت اومهارت لري. لايق او پاک خلک د ځان ملګري کوي،هغوی ته مسوليت ورکړي، او بيا له هغوی څخه کار او نتيجه وغواړي. يو مشر د خپلو ملګرو د ارتقا او شهرت څخه ډار نلري، بلکي هڅه کوي چي نېک او قوي ياران ولري ځکه د يوه غښتلی ټيم د ګټلو او سوبي چانس ډېر وي. هغه مشر چي ښه ياران او سلاکاران ولري، هغه پرمختګ کوي. په مقابل کي، هغه مشر چي همدا کار و نه کړي، هغه به ضرور رانسکوره سي. په هر صورت، يو ګوډاګی د قوي او با کرکټرو خلکو څخه کرکه او ېېره لري ځکه هغه پر خپل ځان باندي اعتماد نلري. په بل عبارت، د خپل سيوري څخه ډارېږي، همدا وجه ده چي يو ګوډاګی په پردو ځان ساتي.

واقعي او ملي مشران تاريخونه جوړ وي. په تاريخ کي، واقعي ليډران د خپلو اولسونو توپاني ېېړۍ د امن او نجات ساحل ته رسوي. هغوی په تيارو کي د سباوون زيری د ځان سره لري. د بحرانونو په جريان کي دهمت او عزم لمن نه خوشي کوي. هغوی په سختيو کي زارۍ او ننواتي نکوي، بلکي د مشکلاتو مقابلې ته ور دانګلي. هغوی د ستونزو څخه شاتګ نکوی. هغوی د کرزي غوندي د خپلو خلکو په مينځ کي خپل اعتبار او حيثيت له لاسه نوي ورکړي. واقعي ليډران د کرزي غوندي په عام محضر کي لکه ماشوم نه ژاړي. بلکي هغوی د زور ورو سره ډغري وهلي او د کمزورو سره شفقت او مرحمت کوي. لنډه دا چي ملي مشرانو د خپل صلاحيت څخه پوره استفاده کوي .

د ښاغلي کرزي سياسي زده کړه او تجربه د ۱۹۸۰ د کلونو په ترڅ کي په پېښور کي پيل سوه. هلته ښاغلي کرزي د اصولو، عزت، او د پرنسيپ د ژوند او سلوک سره د ابد لپاره خدای پاماني وکړه. هغه په پاکستان کي دا زده کړه چي د افغان اولس د استقلال او برم د خرڅلاو لپاره بايد هيڅ مقاومت و نکړي. هغه په پاکستان کي زده کړه چي که چيري غواړي يو مقام تر لاسه کړي، بايد د "اسفل سفلين" په کتار کي ودرېږي. د بن الوقتۍ او مصلحت ماهر و اوسي. د ګوډاګي د کلمې څخه هيڅ ډار او شرم ونلري، لکه چي د سي ان ان سره يې په مرکه کي اعتراف پرې کړی دی. په بل عبارت، ښاغلي کرزي د پاکستان په دسېسو کي سياسي سبق لوستی دی، او همدا سبب دی چي له هغه څخه د سياسي ابتکار او مېړانی تمه کول يو خوب او يو غولونکی خيال دی او بس .


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

د ملي لیډرانو یو لوی خصوصیت سیاسي ابتکار دی. مانا دا چي واقعي مشران کتاب مني، خو خپله هم ابتکار لري. هغوی کولای سي چي په سختو شرایطو کي او هم د مرگانیو ضربو لاندي خپل ابتکار وساتي او د خلاصون لاره پیدا کړي. په مقابل کي، ګوډاګی ابتکار نلري او نه هم د ابتکار د کولو جاغور لري. ګوډاګی مجبوره دی چي د خپل بادار برېتو ته پوره پام وکړی. مانا داچي که زلمي خلیلزاد د امریکا سفیر وي، باید د شارلتان خلیلزاد څخه هر سهار هدایات تر لاسه کړي، او که ښاغلي ووډ د امریکا سفیر وي، بیا نو پکار ده چي د ښاغلی ووډ د سلامۍ لپاره هر سهار ولاړ سي. په بل عبارت، هیڅکله سیاسي ابتکار باید و نه ښودل سي، ځکه امکان لري چي د امر صاحب پر طبیعت باندي بد و لګیږي .

واقعي مشران هغه کارونه کوي چي د هغوي په گمان صحیح او درست دي. هغوی پدې باب د هیچا پروا نلري. هغوی د خپلي ارادې او هوډ خاوندان دی. په مقابل کي، ګوډاګیان د خپلي ارادې څخه پردي دي، هغوی د فیصلې کولو جوګه ندي. هغوی لمړی د خپل مرکز سره تماس نیسي، د مرکز نبض ګوري وروسته بیا خپله پالیسي اعلانوي. همدا وجه ده چي ګوډاګیان په سختو شرایطو کي تل ناکامه وي. تل یې ارواح ختلې او حواس یې بایللي وي. د هغوی ژوند د عذاب وي، د شرم وي، او لنډه دا چي د ګوډاګي ژوند د بې همتۍ او سرکوزۍ بېلګه وي.

د پښتو خوږ ژبي شاعر او فیلسوف، غني خان، د ګوډاګي او کرزي په شان مشرانو لپاره یو شعر ویلی دي چي زه یې دلته کټ مټ را نقولم، او قضاوت خپلو درنو لوستونکو ته خوشي کوم. والسلام.

لیډر

د کارغه خوله کړه    ژبه د مار کړه
د چرګي عقل کړه    زړه د سیار کړه
مرۍ د سپي کړه    چي ښه غپار کړه
ضد د کچر کړه    غرور پرې بار کړه
خټه د کلي    ډېران د ښار کړه
بیا چرته ړوند    کولال یو یار کړه
تاله به نوی    لیډر تیار کړه


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de